# په پښتو ژبه کښې د فرعي لهجو مطالعه

# Study of Sub-dialects in Pashto language

Ayatullah Khan Wazir*
Dr. Farkhand Liaqat**

**Abstract:**

Pashto is a popular language spoken by Pashtuns nation. There are three or four but few scholars have shown five major dialects of Pashto language. But in this article I have spoken in those dialects, it is called oral or (Sub Dialects) dialects.

**KEY**: Pashto Language, Pashto dialects, Sub Dialects of Pashto Language

**پښتوژبه** (Pashto language)

دا خبره خو زړه شوه او هره چا ته معلومه شوه چې پښتو د سويل مرکزي اشيا ژبه ده. پښتون قوم په دې ژبه خبرې کوي. په پارسي ادب کښې ورته افغاني وائي او په هندي ادب کښې د پهټاني په نوم يادېږي. او د دې ژبې وېيونکيو ته پښتانهء ، افغانان يا پهټان وئيلی کېږي.

**د پښتو ژبې تعارف** (Introduction of Pashto language)

پښتو مشرقي ايراني ژبه ده چې تعلق يې د هند يورپي ژبو خاندان سره دی. دغه وينا د ډېرو محقېقينو نه څرګنده ده. چې په هغه کښې انې بويل ډېوډ هم شامله ده هغه ليکي:

(Pashto is considered to be the second-most important Iranian language, after Persian.)(۱

ژباړه: ''د پارسۍ ژبې نه پس پښتو دويمه اهمه ايراني ژبه شمېرلې شي.''

د پارسۍ نه پس مېرنې پښتو ته دويمه لويه درجه ورکړې ده دې سره اتفاق کول د موجوده ژبپوهنو په لاس کښې ده چې ايا پښتو نن سبا په کوم مقام ولاړه ده چې شايد چې په اوسمهال کښې پښتانهء د پارسيبانو نه په شمېر کښې زيات وي او ژبه يې يې د پرمختګ لاره زياته لنډه کړې وي ځکه چې پښتو د يو لوی هېواد سرکاري ژبه ده چې هغه ته افغانستان وئيلی کېږي او په يو بل هېواد کښې په دوه ولايتونو کښې په کثرت سره د دې

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar
** Associate Professor Pashto Academy University of Peshawa

ژبې وېيونکي استوګنه کوي چې نوم يې پاکستان دی او د په پاکستان کښې دويمه لويه علاقاي ژبه هم شمېرله شي. د پښتو او پارسي نه سېوا په هند يورپي کښې نورې ژبې هم موجودې دي چې ژبپوهانو د سنسکرت، اوستا ، او پهلوي چې د پارسۍ ژبې زوړ شکل دی يادې کړې دي. او پښتو يې د دغو ژبو خور ښودلې ده او ځنې پوهانو پښتو دغو ژبو ته نزدې ښودلې ده چې په هغه کښې ډاکټر درويش يوسفزي هم دی هغه په خپل کښې ليکي:
''پښتو د استا او سنسکرت او ايندو اروپا ژبو سره نزدې ده.'' (۲)
دا يو اوږد بحث دی چې مخ په وړاندې راروان دی او د کاروان په شانتې ځي هيسارېږي نهٔ . تر ننيني مهال پورې پښتانهٔ په دې جوړ نشول چې پښتون څوک دی ژبه خو د هغې نه پس راځي. دلته د باچا خان بابا دا خبره رايادہ شوه چې مخې ته راوړل يې ضروري ګڼم هغه ډېر د خوږ زړهٔ نه وئيلي دي: ''چې پښتانهٔ نور په هيڅ خبره نهٔ متفق کېږي سېوا د دې نه چې اتفاق به نهٔ کوو.'' (۳) ټولې مسلې به حل شي خو چې هر کله په پښتنو کښې اتفاق راشي. او دا خبره نن نه درې نيم سوه کاله په وړاندې خوشحال خان بابا ډېره په ارمان سره د شعر په ژبه کښې په ډول کړې ده:

هره چاره د پښتانه تر مغول ښه ده
اتفاق ورڅخه نشته دېر ارمان (۴)

ژبه يوه وي خو لهجې يې په لاسګونو وي. پښتو يوه ژبه ده او ټول پښتانهٔ پښتو وائي البته په ويناګانو کښې يې فرق شته او دغه فرق پښتو ژبه په لهجو ويشلې ده چې دلته يې لنډه شانتې وينا کوم.

**د پښتو ژبې لهجې** (Pashto dialects)

پښتو ژبه د نورو ژبو په شانتې په بيلابيلو سيمو کښې د ويونکو د موجوديت له امله ډېرې لهجې لري. زړو محققينو د پښتو دوه لهجې ښودلې دي. چې يوې ته ننګرهارۍ او بلې ته کندهارۍ لهجه وئيلې کېږي. ولې ننګرهارۍ لهجې ته يوسفزۍ لهجه هم وئيلې شي چې د ختيځې سيمې پښتانهٔ يې وائي او کندهارۍ لهجه ته ختيکي لهجې نوم ورکړې شوې دی او د لوېديځې سيمې پښتانهٔ په دې لهجه خبرې کوي. خو د وخت سره يوه بله لهجه هم مخې ته راغله چې هغه مرکزي يعني ميځنۍ لهجه ده او دغه لهجه په د پښتنو په مرکزي برخه کښې وئيلې کېږي. نو د پښتو درې واړه لهجې په دې ډول دي.

۱-ننګرهارۍ، یوسفزۍ یا ختیځه لهجه
۲-کندهارۍ، ختکي یا لوېدیځه لهجه
۳-مرکزي یا مینځۍ لهجه
ښاغلي صدیق الله رښتین د دواړو لهجو په حوالې سره په ډول لیکلي دي:

> د پښتو ژبې لهجې په دوو لوېدیځو او ختیځو لهجو ویشل شوې دي او بنسټ یې د دوو تورو (ښ،ږ) توپیر ګڼي چې په لوېدیځو لهجو کښې یې (ش،ژ) ته نژدې او په ختیځو لهجو کښې (خ،ګ) تلفظ او ویل کېږي، خو اوس د زیات غور او مطالعو په نتیجه کښې یوه دریمه لهجه د مرکزي لهجې په نوم د اساسي لهجو په کتار کښې شامله شوې ده. (۵)

دې حوالې سره هغه توري هم معلوم شول چې د کومو په سبب په دواړو لهجو کښې توپیر پیدا شوې دی. بل دغه دواړې لهجې ختیځه او لوېدیځه په سخته او نرمه لهجه سره هم یادېږي ختیځې لهجې ته سخته او لوېدیځې لهجې ته نرمه لهجه وائي. ختیځه ته سخته لهجه په سبب وئیلې کېږي چې دغې لهجې وېیونکي د وینا په وخت توري د خلق نه راوباسي او لوېدیځې لهجې وېیونکي د شونډو په سرونو خبرې کوي. مینځۍ لهجې وېیونکي ځنې په سخته لهجه کښې شامل دي او ځنې په نرمه لهجه خبرې کوي.
په اوسمهال کښې پښتو ژبه په دوو یا په درېوو لهجو نهٔ ده پاتې او نوی کول ژبپوهانو پینځو لهجو ته راسولې ده چې په هغه مېرمن اني بویل ډېوډ چې یوه مستشرقه ده او بل ډاکټر یوسف خان جذاب شامل دی. مېرمنې ډېوډ دغه تقسیم په دې ډول کړی دی. هغه لیکي:

> The approach we take in this work assumes five dialects: Southwest (SW), Southeast (SE), Northwest (NW), Northeast (NE) and Middli (M).

> ژباړه: ''دلته چې مونږ د کوم کار نږدې والی په غاړه اخیستې دی نو هغه د پښتو پینځه لهجې منلې دي: لکه سهېل لوېدیځه، سهېل ختیځه، شمال لوېدیځه، شمال ختیځه او مینځۍ چې په فرعي لهجو کښې به یې تفصیل راشي.'' (۲)

د پښتو ژبې هره یوه لهجه معیاري ده هغه که په ننګرهار کښې وئیلې شي یا په کویټه

بلوچستان کښې او یا په صوابۍ کښې او یا په بنو، ډي آئي خان یا وزیرستان کښې . چونکې ټولې لهجې کتابي نشي کېدلې نو مونږ ځکه د بعضې لهجو ته فرعي لهجې وایو اوس د پښتو ژبې او د هغه مخصوصو لهجو افادیت نه راتېرېږو او په فرعي لهجو نظر اچوو.

**د پښتو ژبې فرعي لهجې (Sub-dialects of Pashto language)**

په د پسینۍ لهجو کښې چې کومې د ننه لهجې شاملې دي هغه ته فرعي لهجې وئیلې کېږي. فرعي لهجې ډېر زیات ډولونه لري چې ځینې مهم یې دغه شانتې دي.

**وزیري لهجه (Wazri dialect)**

په پښتانو کښې وزیر یوه لویه قبیله ده چې په شمالي، جنوبي وزیرستان او سب وزیر بنو کښې استوګنه کوي دغه سیمې خلک چې په کومه لهجه خبرې کوي هغه ته وزیري لهجه وائي. وزیري لهجه په دې دوو توریو (ش،ژ) کښې د کندهاري (لوېدیځې) لهجې تابعه ده خو په نورو مواردو کښې د مرکزي (مینځۍ) لهجې سره متابقت لري. په وزیرۍ لهجه کښې ا (الف) چې د توري په مینځ کښې یا په آخر کښې راغلې وي په و (واو) بدلېږي. مجهوله /ې/ په مجهول /و/ بدلېږي او معروفه /ي/ په معروف /و/ سره بدلېږي دلته یې د نمونې لپاره یو څو مثالونه وړاندې کوم.

| د توریو بدلون | معیاري یا ختیځه لهجه | وزیري لهجه |
|---|---|---|
| /ا/ــــــ په ـــــ /و/ | پلار | پلور |
| | تار | تور |
| | کار | کور |
| مجهول/و/ــ په ــ مجهوله /ې/ | کور | کېر |
| | مور | مېر |
| | نور | نېر |
| معروف/و/ــ په ــ معروفه /ي/ | کوڼ | کیڼ |
| | درونډ | دریند |
| | کوز | کیز |

دا هغه مثالونه دي چې وزیري لهجه د پښتو نورو لهجو نه بیلا وي. او په مینځ کښې یې

توپیر پیدا کوي.
په دغه سیمه کښې یو څو نورې لهجې وئیلې کېږي چې په هغه بنوڅۍ لهجه (Bannuchi dialect) داوړواله لهجه (Dawari dialect) او محسود واله لهجه (Masud dialect) دغه لهجې په دې توریو کښې د وزیري لهجې تابعې دي البته د توریو په اضافت کښې او معنویاتو کښې لږ ډېر توپیر ضرور لري.

**خټکواله لهجه (Khattaki dialect)**

خټک په ټولو پښتانو کښې لویه قبیله ده چې د میاوالي نه تر اټکه میشته ده د خټک قبیلې بعض وګړي په (ش،ژ) کښې د لوېدیځې لهجې تابع دي او بعض په (ښ،ږ) توریو کښې د ختیځې لهجې سره مطابقت لري، په معنویاتو او اصطلاحاتو کښې دا ټوله قبیله د ختیځې او لوېدیځې دواړو لهجو تابعه ده. خو د کرک سیمې خټک اکثر /ه/ په /و/ بدلوي د مثال په توګه:

| /ه/ په /و/ بدلون | معیاري یا ننګرهاري لهجه | خټکواله لهجه |
| --- | --- | --- |
| ه ــــــ په ــــــ و | مخکښې وخت کښې به | مخکښې وخ کښې بو |

**مروتواله لهجه (Marwat dialect)**

دغه لهجه په هر لوري د کندهارۍ لهجې تابعه ده ټول موارد یې د هغوي په شانتې دي خوا هغه که معنویات دي یا اصطلاحات ذره برابر توپیر نهٔ لري. بېټنواله او کنډۍ لهجه د دې لهجې خونیدې دي. البته لږ ډېر توپیر یې شته او هغه توپیر په ښواکه توریو سره مخې ته رائحي. خو تابع د (ش،ژ) دي. او لږ ډېر یې پخپله کښې د معنویاتو توپیر هم شته د مثال په توګه ښځې ''نهٔ نهٔ'' ته ''یه یه'' وایي.

**کویټېواله لهجه (Quetta dialect)**

په بلوچستان کښې چې څومره پښتانهٔ میشته دي هغه ټول په کندهارۍ لهجه خبرې کوي خوا هغه که اچکزي دي یا ککړ، کساني دي اویا غلزي ټول یو شانتې لهجه پکاره وي او د (ش،ژ) تابع دي.

**کندهاري لهجه (Kandahari dialect)**

په کندهار کښې د پښتانو مختلفې قبیلې ژوند کوي چې په هغه کښې ترین، بارکزي، علي زي، نورزي، هوتک، اله کوزي او پوپلزي شامل دي. دغه ټولې قبیلې د کندهارۍ لهجې تابع دي او معونیات او اصطلاحات یې د هغه په شانتې دي.

**کرمي واله لهجه** (Kurram dialect)

د پښتانو بله لويه سيمه چې مختلفې قبيلې استوګنه کوي په دې سيمې توري، بنګښ، اورکزي، منګل، بېه خېل، چمکني او داسې نورې قبيلې ميشتې دي. دغې قبيلې خلک په بعض خپلواک توريو کښې د مينځنۍ لهجې تابعه دي ځينې ځای کښې د معنوياتو پحقله د ميځنۍ لهجې په په ډول ده.د مثال په توګه:

(وروستو) ته (ستېه) وائي چې اکثر ميځنۍ لهجې خلک ورته (ستېه) پکاره وي.

(ښکاره) ته (جوت) وائي. او داسې نور ډېر توري موجود دي.

خو ډېر اصطلاحات يې د ختيځې لهجې په ډول دي. دلته هغه خپلواک توريو بدلون وړاندې کوم چې د مينځۍ لهجې په ډول دي . د مثال په توګه:

| د /ا/ بدلون په /و/ | معياري يا ننګرهاري لهجه | کرمې واله لهجه |
|---|---|---|
| /ا/ ـــــ په ـــــ /و/ | پلار | پلور |
| /و/ ـــــ په ـــــ /ي/ | وئيل | يل |
| | وايم | يايم |

**کاکړۍ لهجه** (Kakari dialect)

دغه لهجه په ځينې مواردو کښې د لوېديځې لهجې او بيا په ځينې ځايونو کښې د مينځۍ لهجې سره نږدې والې لري (ژ) د مينځۍ په شانتې په (ز) بدله وي د مثال په توګه:

| د /ژ/ بدلون په /ز/ | معياري ياننګرهاري لهجه | کاکړي لهجه |
|---|---|---|
| ژ ـــــ په ـــــ ز | ژوند | زوند |
| | ژمې | زمې |
| | ژبه (جبه) | زبه |

د ننګرهارۍ لهجې وګړي /ژ/ په /ج/ بدلوي.

**احمدزي لهجه** (Ahmadzi dialec)

د احمدزو لهجه کښې د کاکړۍ لهجې په شانتې /ژ/ په /ز/ بدلېږي او بل /ش/ په /س/ بدلېږي. يو ځومثالونه يې لاندې راوړم:

| د /ش/ بدلون په /س/ | معياري ياننګرهاري لهجه | احمدزۍ لهجه |
|---|---|---|

| | | |
|---|---|---|
| /ش/ ـــــ په ـــــ /س/ | کشر | کسر |
| | شغلې | سغلې |
| | میاشت | میاست |

**وردګو لهجه** (Waedago dialect)
دغه لهجه په ټولو مواردو کښې د مرکزی لهجې په برخه کښې شمېرلې شي او ټول توري يې د نورو مينځی لهجې په شانتې بدلېږي. لهذا دلته يې مثالونه راوړل ضروري نهٔ ګڼم.
**پکتيا لهجه** (Paktiya dialect)
د لهجه هم د وزيری لهجې په ډول په مکمله توګه په مينځی لهجه کښې شامله ده ټول کړه وړه يې د وزيری لهجې په شانتې دي دلته يې يو مثال په ګوته کوم:
لکه څنکه چې په وزيری لهجه کښې (راڅه) ته (ارڅه يا ارسه) وئيلی کېږي. بالکل په دې ډول په پکتيا لهجه کښې هم ورته (روڅه) وائي. دغه دواړو لهجو وګړي يو بل سره نږدې ژوند کوي ځکه يې په لهجه کښې ډېر توپير نشته.
**اپريدو لهجه** (Afridi dialect)
د خټکو نه پس دا دو يمه يا دريمه لويه قبيله ده دريمه به ځکه وي چې يوسفزي قبيله هم ډېره غټه ده او د پښتونخوا په يوه لويه سيمه ميشته ده. چې هر څه وي خو دغه قبيله په خيبر ضلع کښې اباده ده او څه برخه يې په سب اپريدي پېښور او کوهاټ کښې هم ژوند کوي دا لهجه په ځينې ځايونو کښې د مينځی لهجې تابعت کوي او ډېر موافقت يې د ختيځې لهجې سره دی ځينې داسې خپلواک توري دي چې هغه د مينځی لهجې په ډول سره اړه وي راوړه وي لکه د وزيری لهجې په شانتې /ا/ په /و/ بدلوي او معروف /و/ په معروفه /ي/ بدلوي. مثالونه يې نهٔ وړاندې کوم.
**يوسفزو لهجه** (Yousafzi dialect)
هسې خو د پښتو ټولې لهجې معياري دي په څهٔ نه څهٔ شکل کښې يې ادب موجود دی خو دا د پښتنو هغه لهجه ده چې ټول پښتانهٔ خط وکتابت په دې لهجه کښې کوي او په دې لهجه يې اتفاق کړی دی. البته په وئيلو او ليکلو کښې د دې لهجې وېيونکي هم توپير کوي د مثال په توګه:
(کوم) ته د دې لهجې وګړي (کم) وائي.

(هلک)ته (الک) وائي. داسې نور ډېر توري شته چې په وينا او کتابت کښې يې جوت توپير دی. چې هر څهء دي خو په ختيځه لهجه کښې دا يوه مهمه لهجه شمرلې شي.

**باجوړي لهجه** (Bajauri dialect)

باجوړې لهجه د ختيځې لهجې يوه خاص فرعي لهجه ده چې ټول موارد يې يې د ختيځې لهجې په شانتې دي البته بعض بېواک اوازونه يې په يو بل کښې بدلون لري لکه: /غ/ په ځينو ځايونو کښې په /ت/ اړه وي او /ګ/ په /ځ/ بدلوي.

| د /غ/ په /ت/ بدلون | معياري لهجه | باجوړي لهجه |
|---|---|---|
| /غ/ ـــ په ـــ /ت/ | غوښه | تېښته |
| د /ګ/ په /ځ/ بدلون | ګوښه | ځېښته (۷) |

**مومندو لهجه** (Momand dialect)

په ختيځه لهجه کښې دا هم يوه مهمه لهجه ده چې په مومند ضلع، شبقدر او د خليلو په سيمو کښې وئيلې کېږي دغه لهجې په مواردو کښې ټوله د يوسفزيو لهجې په ډول ده چې په دروند او ځيږ اواز سره وئيلې کېږي.

**خوګيانو لهجه** (Khogyano dialect)

خوګيانو لهجه هم يوه فرعي لهجه ده چې په زياتو ځايونوکښې د مينځۍ لهجې په ډول خپلواک اوازونه بدلوي مجهول /و/ په مجهوله /ې/ سره بدلوي د مثال په توګه:

(غواړي) ته (غېږي) وائي او (خولۍ) ته (خېلې) وائي.

خو په ځينو مواردو کښې د ختيځې لهجه سره تعلق لري.

**شينواريو لهجه** (Shinwari dialect)

شينواري لهجه ټوله د ختيځې لهجې په شانتې وئيله کېږي مخض د /ږبر/ او /زور/ توپير يې ضرور شته لکه مثال په توګه:

| د /زبر/ او/ږ /زور/ بدلون | معياري لهجه | شينواري لهجه |
|---|---|---|
| /زبر/ ـــ په ـــ /زور/ | کېږي | کږي |
| | ورمېږ | ورمږ |
| | خوږېږي | خوږ ي |

| | | |
|---|---|---|
| | څنډېږي | څنډږي |

د ښاغلي صدیق الله رښتین صاحب وینا ده: ''چې پښتو ژبه په سلګونو لهجې لري اوهره یوه لهجه یې معیاري ده. '' (۸) دا خبره په ځای ده خو دلته که د هرې لهجه په بیل بیل انداز کښې څېړنه وشي نوشاېد چې د دې نه مقاله جوړه شي نو په دې سبب په دغو لهجو اکتفا کوو چې د وړاندینۍ یې وینا وشوه.
یاده دې چې دلته د پښتو ژبې لهجو په مینځ کښې څومره توپیر مونږ راوړی دی دا مخض د خپلواک (Vowel) او بېواک (consonant) اوازونو په بنیاد سره ترسره شوی دی، چې په دې کښې د معونیاتو په لحاظ سره مونږ څېړنه نهء کړې د هغوي بنیادي سبب دا دی چې که چرته مونږ په دغه لحاظ سره څېړنه وکړو نودا به یو ارټېکل په ډول پاتې نشي بلکې دې نه به مقاله جوړه شي.

# References


۱- Boyle David, Anne, DESCRIPTIVE GRAMMAR OF PASHTO AND ITS DIALECTS, P: 30

۲- Darvesh Yousafzai, Dr, Pashto da Zabo Mour, Export Graphics Peshawar, 2nd print, P:81

۳- Bacha Khan, Khan Abdul Ghafar khan, social Media, Speech

٤- Khattak, Khushal Khan baba, Da Khushal Khan Kulyat, Maheen Published Peshawar, 2018, P:120

٥- Rikhteen, Sadiqullah, Pashto grammar, Peshawar, 1994, P:18

٦- Boyle David, Anne, DESCRIPTIVE GRAMMAR OF PASHTO AND ITS DIALECTS, P: 30

۷- Rikhteen, Sadiqullah, Pashto grammar, Peshawar, 1994, P:18

۸- Abide